افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د رونټوب نړیوال سازمان – په افغانستان کې د ښې حکومتوالۍ دپاره

کابل، د ۲۰۱۶ کال د آګست د میاشتې ۲۳مه نیټه – پرون د رونټوب نړیوال غیرحکومتي سازمان (Transparency International) په افغانستان کې د فساد په وړاندې د مبارزې خپل درې کلن پروګرام د یوې غونډې په ترڅ کې په رسمي توګه پیل کړ. د افغان-المان د همکاری پروګرام په هیواد کې د نوموړي سازمان د ژمنې څخه ملاتړکوي او د په لومړي پړاو کې د یوه نړیوال پروګرام جوړول تمویلوي. اوس نړیوال کارپوهان په کابل کې د یوه نوي دفتر دپاره د ملي همکارانو په استخدام بوخت دي.

په نوموړې غونډه کې چې "په افغانستان کې د ځواب ویونکي حکومتداری د پیاوړي کولو" تر سریزې لاندې جوړه شوې وه، د مقدماتي خبرو اترو ناسته جوړه شوه او وروسته بیا دوه اړخیزه بحثونه وشول. په دې غونډه کې د افغان حکومت استازو او همدارازملي او بین المللی کارپوهانو برخه اخیستې وه. دغو کارپوهانو په ګډه ددې امکان پیدا کړ چې د افغانستان د ملي وحدت د حکومت د ځواب ورکونې په وړاندې د نوموړي سازمان د چلند په باب خبرې اترې وکړي او هغه بیلابیل اړخونه وڅیړي.

د المان حکومت دفساد په وړاندې په نړیواله کچه مبارزه کې د رونټوب د نړیوال سازمان د پراخو تجربو له امله له نوموړي نوښت څخه ملاتړ کوي. په عمومي توګه، غیرحکومتي سازمانونه لکه د رونټوب نړیوال سازمان د فساد د زیانمنو یا شاهدانو ته غږ ورکوي چې خپلې اندیښنې راپورته کړي او ناوړه حالات څرګند کړي. په ځانګړې توګه، د رونټوب نړیوال سازمان ځارنه غښتلی کوی او د خپلو ثابت شویو وسیلو لکه د شبکو د جوړولو او خپرونو له لارې د ملی وحدت د حکومت د ګډ شمیر ژمنو په پلی کولو کې چې په هیواد کې د پراخیدونکي فساد سره د مبارزې په موخه یې کړیدي ، مرسته کوي. په دې ډول، دغه سازمانونه د مدني ټولنې د فعالیتونو او عامه خبرو اترو په ترویج کې مرسته کوي. لاسته راوړنې، ناوړه کارونې او د حکومت نور اقدامونه به د افغانستان خلکو ته رون او شفافه شي او له دې امله به د کړې کتنې وړ وګرځي.

چې د فساد په (Transparency International) د نړیوال رونټوب سازمان وړاندې یو نړیوال ایتلاف دی، په ۱۹۹۳ کال کې د یو غیرحکومتي سازمان په توګه په دې موخه جوړ شو چې په نړیواله کچه د فساد په وړاندې مبارزه وکړي. دغه غیرحکومتي سازمان د مدني ټولنې د سازمانونو، حکومتونو، سوداګریزو موسساتو او شاریانو سره د ۱۰۰ نه زیاتو هیوادونو کې فعالیت کوي. ددې سازمان موخه داده چې د ناوړې کارونې، بډو او پټو معاملو څخه مخنیوی وکړي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de

افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

دافغان-المان د همکاری اداره د آلمان د اقتصادی همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) په استازیتوب د افغانستان د حکومت سره یوځای په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د ټینګولو په لاره کې کار کوي. د ۲۰۰۳ کال را په دې خوا دغه پروژه د افغانستان د عدلیې وزارت سره د ټولو خلکو دپاره عدالت ته د لاسرسی د تامینولو د هڅو په لاره کې مرسته کوي او دې موخې ته د رسیدو دپاره، عدالت ته د ډیر ښه لاسرسي او همدارنګه د عدلي او قضایي سکتور د کارکوونکو مسلکي ظرفیت ته د سمون ورکولو څخه ملاتړ کوي. په عین حال کې د خلکو د حقوقي خبرتیا د کچې په لوړولو کې مرسته کوي

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de